مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۵** (از ۵ الی ۱۲ ثور ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### د هند سفر؛ د بهرني سیاست بدلون که د توازن هڅه؟

- د افغان-هند اړیکو مخینه ........ ۳
- د هند په تړاو د حامد کرزي بهرنی سیاست ........ ۴
- د پاکستان په لور د اشرف غني د تمایل عوامل ........ ۵
- د اشرف غني بهرنی سیاست ........ ۶
- په بهرني سیاست کې د توازن هڅه ........ ۷
- هند ته د اشرف غني د سفر لاسته راوړنې ........ ۸

### پارلمان و پشیمانی دیر هنگام!

- گزارش هیئت افغانی در مذاکره با امریکا ........ ۱۰
- حامدکرزی و پیمان امنیتی ........ ۱۰
- ولسی جرگه و پیمان امنیتی ........ ۱۱
- تقویت نیروهای افغان ........ ۱۲
- نتیجه گیری ........ ۱۲

## مقدمه

ولسمشر اشرف غني د تېرې دوشنبې په ورځ د يوه جگپوړي پلاوي په مشرۍ د هندوستان پلازمېنې نوي ډيلي ته ولاړ. د دغه سفر موخه تر ډېره له اسلام اباد سره د اړيکو د نژدې کېدو ترځنگ نوي ډيلي ته د دوستانه اړيکو پيغام رسول وو؛ خو په اقتصادي، ترانزيټي او تجارتي برخو کې د دوه اړخيزو همکاريو په تړاو هم دا سفر ارزښتناک و. له هند سره د اشرف غني له واک ته رسېدو وروسته د کابل اړيکې يو څه سړې شوې او د کابل او اسلام اباد د نژدې کېدو له کبله يې ترمنځ يو څه بې باوري هم رامنځته شوې وه.

هند ته په اوسني وخت کې د اشرف غني دغه سفر څومره ارزښت او څه لاسته راوړنې درلودې؟ دغه راز د هند په تړاو د پخواني ولسمشر حامد کرزي او اشرف غني په سياستونو کې څه توپير موجود دی؟

له بله پلوه، د ولسي جرگې غړو په هېواد کې د ناامنيو له وروستۍ څپې او خونړيو پېښو وروسته، تېره اوونۍ د لومړي ځل لپاره له امريکا سره پر لاسليک شوي امنيتي تړون د بياکتنې او فسخ کولو غوښتنه وکړه. د وکيلانو په وينا، دا تړون په هېواد کې د سولې او امنيت د ټينگښت په موخه لاسليک شو، خو دا هيله يوازې يو خيال و او دا تړون په حقيقت کې د ناامنيو د زياتوالي لامل شو.

له امريکا سره د امنيتي تړون تر لاسليک مخکې د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز په څېر يو شمېر بنسټونو د تړون لپاره چمتو شوی متن په علمي ډول وارزاوه او په تړون کې د امريکا د الزامي ژمنو د نشتوالي له کبله يې د هېواد واکمنانو ته د دغه تړون د نه لاسليک کولو سپارښتنه وکړه، مگر بيا هم د اشرف غني له واک ته رسېدو سره سم په ډېره بيړه لاسليک شو؛ خو له دغه تړون د ځينې افغانانو د تمې خلاف، هېواد ته د ارامۍ زېرى رانه ووړ. اوس پوښتنه دا ده، چې اوسمهال د ولسي جرگې دا غوښتنه څومره پر ځای ده؟

د دې اوونۍ په تحليل کې، پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز، د څېړنيزې څانگې شننې لولئ:

# د هند سفر؛ د بهرني سياست بدلون که د توازن هڅه؟



ولسمشر اشرف غني د روان ميلادي کال د اپرېل په ۲۷مه هند ته په لومړني رسمي سفر ولاړ. اشرف غني له دې مخکې چين، سعودي عربستان، پاکستان، آذربايجان، ترکمنستان، انگلستان او امريکا ته سفرونه کړي وو.

د اشرف غني له واک ته رسېدو وروسته په تېرو اوو مياشتو کې له هند سره د کابل په اړه ځينې بې‌باورۍ رامنځته شوې او له همدې امله ولسمشر غني کابو اووه مياشتې وروسته، د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باورۍ د ختمولو او په ترانزيټي، اقتصادي، زراعتي او سوداګريزو برخو کې د ګډو همکاريو په موخه، په يوه درې ورځني سفر نوي ډيلي ته ولاړ.

## د افغان-هند اړيکو مخينه:

افغانستان او هند لرغونې اړيکې لري او دا اړيکې هغه مهال لاپراخې شوې، چې کله د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې افغانستان د هند له خپلواکۍ ملاتړ وکړ او هندي خپلواکي غوښتونکو ته يې په خپله خاوره کې ځای ورکړ. د دغې پېړۍ په دويمه نيمايي کې بيا دا اړيکې له پاکستان سره د ګډې دښمنۍ له کبله لاتودې

شوې. د دغو نږدې کېدو بل لامل هم دا و، چې ډېری افغان نخبه ګانو او جګپوړو چارواکو په هند کې زده کړې کړې وې.

د شورویانو له یرغل سره اندراګاندي د افغانستان د اشغال په تړاو متذبذب حالت غوره کړ او په څرګنده یې د شوروي یرغل ونه غانده، چې له همدې کبله ډېری افغانان له هنده بېزاره شول. هغه مهال پاکستان له افغان مجاهدینو او افغان کډوالو څخه په بېلابېلو برخو کې ملاتړ وکړ چې له کبله یې پاکستان په لومړي ځل په افغاني ډلو کې خپل ملاتړ پیدا کړ. وروسته په نویمه لسیزه کې پاکستان او هند له خپلو پلوي ډلو ملاتړ وکړ او دې چارې په افغانستان کې د کورنۍ جګړې لمبې ګرمې وساتلې، چې ان د حامد کرزي د دورې پرمهال هم دواړو هېوادونو د یو بل پرخلاف نیابتي جګړه ګرمه ساتلې وه.

د سپټمبر د یولسمې له پېښې او په افغانستان کې د طالبانو د امارت له ړنګېدو‌سره، هند په افغانستان کې لېوالتیا واخیسته، له کابل سره یې ډېرې مرستې وکړې، په بیارغونه کې یې ونډه واخیسته، افغانانو ته یې په بېلابېلو برخو کې روزنې ورکړې او ترڅنګ یې په افغانستان کې تر ۲ ملیارډه ډالرو پورې پانګونې هم وکړې.

## د هند په تړاو د حامد کرزي بهرنۍ سیاست:

حامد کرزي د خپلې واکمنۍ په پیل کې له دواړو «پاکستان او هند» سره ښې اړیکې درلودې؛ خو وروسته چې کله په افغانستان کې د طالبانو بریدونه مخ په زیاتېدو شول، نو د حامد کرزي پر بهرنۍ تګلاره یې هم اغېز وکړ او د طالبانو د زیاتېدونکو بریدونو له کبله د پاکستان په لور د کرزي شکونه زیات شول او د پاکستان په پرتله هند ته ډېر نږدې شو.

هغه مهال چې په ۲۰۰۸ کال کې په امریکا کې اوباما واک ته ورسېد او په ۲۰۰۹ کال کې امریکا د افغانستان په ټاکنو کې د لاسوهنو هڅې وکړې، نو دې حالت هم د کرزي پر بهرنۍ تګلاره ژورې اغېزې وکړې. په دغه پړاو (۲۰۰۹-۲۰۱۴) کې د کابل اړیکې له واشنګټن او اسلام آباد سره ورځ تر بلې د خرابېدو په لور وې؛ خو له بیجینګ، مسکو او نوي ډیلي سره یې اړیکې ښې شوې. حامد کرزي په ۲۰۱۰، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو کې چین ته سفرونه وکړل، په ۲۰۱۱ کال یې روسیې ته سفر وکړ او همدارنګه یې د ۲۰۱۳ کال تر پایه ۱۴ ځله هند ته سفرونه وکړل.

حامد کرزي د خپلې واکمنۍ په دویمه دوره کې له نوي ډیلي سره د کابل ستراتیژیکې او دفاعي اړیکې لاپراخې کړې. په ۲۰۰۹ کال کې د زرنج-دلارام سړک د هند له خوا جوړ شو، د ایران په چابهار کې یې د بندر جوړولو هوډ هم څرګند کړ، په ۲۰۱۱ کال له هند سره ستراتیژیک تړون لاسلیک شو او په ۲۰۱۳ کال کې کابل له هند څخه د درنو وسلو رانیولو وړاندیز هم وکړ.

## د پاکستان په لور د اشرف غني د تمایل عوامل:

دا چې اشرف غني ولې د پاکستان په لور پاملرنه زیاته کړه، لاندې لاملونه درلودای شي:

- د سولې د بهیر په برخه کې د پاکستان مرستې راجلبول؛
- په ترانزیټي برخه کې د افغانستان ستونزې راکمول؛
- د ټاپي او کاسا-۱۰۰۰ پروژې او له اقتصادي پلوه د سیمې د پیوستون لپاره پاکستان ته اړتیا؛

خو د دې ترڅنګ په وروستیو دوو کلونو کې د افغانستان په تړاو د هند سوړ غبرګون هم د اشرف غني پر پرېکړو د اغېز لامل شو او له کبله یې پاکستان ته ځینې امتیازات ورکړل، د هند د ساړه غبرګون ځینې بېلګې په لاندې ډول بیانولی شو:

- د ۲۰۱۳ کال په پای کې حامد کرزی په یوه رسمي سفر هند ته ولاړ او هلته یې له هند څخه د درنو وسلو د رانیولو وړاندیز وکړ، چې هند بیا دغه وړاندیز د پاکستان د غبرګون او د لشکر طیبه له خوا د هندي اتباعو د وژلو د وېرې له کبله ونه مانه؛ خو په وروستیو وختونو کې د هند له خوا داسې هڅه هم وشوه، چې دغه وسلې کابل ته له روسیې څخه راونیسي؛ مګر اشرف غني بیا له هند څخه د کابل هغه غوښتنه، پاکستان ته په یوه سفر کې وځنډوله.
- که څه هم د هند له خوا د زرنج-دلارام ستراتیژیک سړک ډېر مخکې د هند له خوا جوړ شو او ترڅنګ یې د هند له خوا د ایران د چابهار بندر د جوړولو هڅې هم وشوې؛ خو د یوې هندۍ سیاسي شنونکې په اند،

هند د امریکا د فشار له کبله دغه بندر فعال نه شو کړای، ځکه هغه مهال امریکا له ایران سره د اتومي پروګرام پر سر خرابې اړیکې درلودې.[1]

- د چین د ولسمشر شي جین پینګ د «یوه سیمه؛ یو سړک» تر نامه لاندې د چین د ورېښمو پر نوې لاره د هند نیوکې او ورسره مخالفت هم بل لامل و، چې په دې اړه د اشرف غني د سیمه‌ییز اقتصادي الحاق تیوري، له نوي ډیلي سره په ټکر کې شي.

## د اشرف غني بهرنی سیاست:

د اشرف غني بهرنی سیاست تر ډېره په دریو محورونو راڅرخي:

**لومړی:** سوله او امنیت؛

**دویم:** اقتصادي ډیپلوماسي؛

**درېیم:** افغانستان له سیمې سره په اقتصادي توګه تړل.

اشرف غني د لومړي موخې په تکل له پاکستان، چین او سعودي سره اړیکې ښې کړې؛ خو د سولې په اړه د ده په تګلاره کې نیمګړتیاوې ترسترګو شوې. د بېلګې په توګه اشرف غني په مستقیم ډول له طالبانو سره اړیکې جوړې نه کړې، بلکې یوازې پر دې پالیسۍ یې تکیه وکړه، چې طالبان د فشارونو په پایله کې د سولې د خبرو اترو میز ته راکاږي، چې دا کار تراوسه نه یوازې دا چې ناشونی برېښي، بلکې د سولې په لاره کې خنډ هم بلل کېږي؛ ځکه د نړۍ تاریخ او همدا راز په افغانستان کې د تېرو کلونو جګړې دا ثابته کړه، چې د زور له لارې سوله نه شي ټینګېدای.

د دویمې او درېیمې موخې بشپړول هم د پورتنیو هېوادونو له همکارۍ پرته ناشوني وو؛ نو له همدې امله اشرف غني خپل سفرونه له همدغو هېوادونو پیل کړل او د خپل خارجي سیاست په پنځو حلقو کې یې هم لومړي ځایونه ورکړل.

---

[1] Suhasini Haidar, In step with Ghani's Afghanistan, The Hindu, April 24, 2015.

که څه هم په پیل کې پر ښاغلي غني نیوکه وشوې، چې ګویا هند یې د خپل بهرني سیاست په درېیمه حلقه کې راوستی دی؛ خو هند ته له تګ څخه وړاندې اشرف غني له یوه هندي تلویزیون سره په مرکه کې وویل: «له هند څخه نیولې تر آذربایجان پورې زموږ په ګاونډیو هېوادونو کې شامل دي. هند د آسیا یوه برخه او له افغانستان سره د مرستندویه هېوادونو له جملې څخه هم دی.»

## په بهرني سیاست کې د توازن هڅه:

له نوییمې لسیزې راهیسې کابل د هند او پاکستان ترمنځ د یو شمېر لاملونو له کبله په اړیکو کې توازن نه دی ساتلی؛ او د کابل اړیکې له نوي ډیلي او اسلام آباد سره په نامتناسب انداز کې روانې وې. هر کله به چې د کابل-اسلام آباد اړیکې خرابې شوې، نو له کبله به یې د کابل-نوي ډیلي اړیکې ښې شوې او همدا راز کله به چې د کابل-اسلام آباد اړیکې ښې شوې نو د کابل-نوي ډیلي اړیکې به خرابې وې. د لومړي وضعیت بېلګه د حامد کرزي د لومړۍ دورې وروستي کلونه او د دویمې دورې بشپړ کلونه دي او د دویم وضعیت بېلګه د مجاهدینو حکومت او د طالبانو د امارت دروان و.

که څه هم اشرف غني په خپلو لېکچرونو کې پر ناپېیلتوب نیوکې کړې او په خپلو وروستیو څرګندونو کې یې دغه تګلاره د تېرې پېړۍ د پنځمې لسیزې تګلاره بللې او اوس د خارجي سیاست په روښانه کولو یا طرف نیولو ټینګار کوي. خو له دې سره سره هڅه کوي، چې په سیمه کې ډیپلوماتیک توازن وساتي. همدا لامل دی، چې د یمن په قضیه کې د سعودي عربستان د ملاتړ ترڅنګ یې، تهران ته هم سفر وکړ او له پاکستان سره د اړیکو رغولو ترڅنګ له هند سره هم د نژدې اړیکو هڅه کوي.

دغو هلو ځلو ته په کتو سره ویلی شو، چې کابل په لومړي ځل هم مهاله له دواړو هېوادونو سره د ښو اړیکو پاللو هڅه کوي. د هند او پاکستان ترمنځ په اړیکو کې د کابل توازن ساتل به تر هغه پورې دوام وکړي، ترڅو چې اسلام اباد له کابل سره د سولې او د افغانستان د امنیت په تړاو رښتینې مرستې او همکارۍ وکړي او هر کله که کابل په دې اړه پر اسلام اباد باور له لاسه ورکړ، نو له نوې ډیلي سره به د نژدې کېدو په لور ولاړ شي او د دغه توازن ساتلو هڅه به ناکامه شي.

## هند ته د اشرف غني د سفر لاسته راوړنې:

هند ته د اشرف غني سفر له څو اړخونو مهم و:

1. ولسمشر غني په دې سفر سره د هند-افغانستان ترمنځ هغه رامنځته شوې بې باوري راکمه کړه، چې د اشرف غني د چین او پاکستان له سفرونو څخه رازیږېدلې وه. د دې هڅې پایله دا وه، چې د هند لومړي وزیر نارېندرا مودي د افغانستان پخوانی وړاندیز، چې له هند څخه خپلو امنیتي ځواکونو ته درنې وسلې راونیسي، ومانه او له افغان ولسمشر څخه یې وغوښتل، چې د خپلو پوځي اړتیاوو لېست دوی ته وسپاري.

2. په ترانزیټي برخه کې پرمختګ او د هندي چاړواکو دا غوښتنه چې هند دې هم د افغانستان او پاکستان ترځنګ د اپټا تړون برخه وګرځول شي. که څه هم د هند-پاکستان اړیکو ته په کتو سره، په اپټا تړون کې د هند شاملول او هغه هم د واګه بندر له لارې ستونزمن برېښي؛ خو د کراچۍ بندر له لارې له امکان څخه لرې نه دی؛ ځکه پاکستاني چارواکو په دې اړه پخوا هم ویلي وو، چې که هند غواړي له افغانستان سره تجارت وکړي، نو د کراچۍ د بندر له لارې یې دې وکړي.

3. د چابهار پر بندر کار، چې د ایران د اتومي پروګرام له کبله ځنډېدلی و، بیا پیل شو. د افغانستان-ایران-هند درې اړخیز ترانزیتي تړون به، چې ډېری ترانزیټ به پکې د چابهار بندر له لارې ترسره کېږي، د افغانستان پر اقتصاد مثبتې اغېزې وښندي؛ ځکه له یوې خوا به منځنۍ آسیا او تاجکستان ته د هندي او ایراني توکو د لېږد له لارې ترانزیتي ګټې ترلاسه کړي او له بلې خوا به یې هند ته، له همدې لارې صادرات هم زیات شي.

4. دغه راز که چېرې پاکستان په راتلونکو څو میاشتو کې د سولې او امنیت په تړاو رښتینې همکاري ونه کړي، نو هغه مهال به د کابل-نوي ډلي ترمنځ د اړیکو رغولو اړتیا نه وي؛ ځکه دغه سفر دواړه هېوادونه یو بل ته نږدې کړل او ښې اړیکې پالل به ورته آسانه وي.

5. د وړتیاو زیاتولو په موخه د روغتیا په برخه کې یوه تفاهمنامه لاسلیک شوه، چې له کبله به یې افغان ډاکتران په هند کې روزل کېږي او ترځنګ به یې د هندي ډاکترانو ټیم هم افغانستان ته د افغاني ډاکترانو د روزلو لپاره راځي.

6. په نظامي برخه کې هند چمتووالی وښود، چې له افغانستان سره مرستې وکړي او له دې چمتووالي به افغان حکومت پر پاکستان د یو ډول فشار په توګه هم کار واخلي او افغان ځواکونو ته به، چې د تجهیز په برخه کې له ننګونو سره مخ دي، وسلې هم راونیسي.

# پارلمان و پشیمانی دیر هنگام!



به دنبال اوج گرفتن ناامنی و جنگ به خصوص در شمال افغانستان، تعدادی از اعضای پارلمان در هر دو مجلس، خواهان تجدید نظر در پیمان امنیتی با امریکا و حتی لغو این پیمان از جانب افغانستان شدند. این وکلا استدلال می‌کنند که امضای این پیمان هیچ نفعی به حال افغانستان نداشته، بلکه برعکس به تشدید جنگ در این کشور کمک کرده است.

قبل از امضای این پیمان، مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی، در جلساتی با حضور جمعی از کارشناسان امور حقوقی، این پیمان را به صورت بی‌طرفانه مورد بررسی همه‌جانبه قرار داد که این جلسات چندین هفته به طول انجامید. حاصل این بحث‌ها در رساله‌ای به نشر رسید که در آن این نتیجه گرفته شده بود که این پیمان نه تنها مشکل جنگ و ناامنی در افغانستان را حل نمی‌کند بلکه انگیزۀ بیشتری برای جنگ به مخالفین خواهد داد؛ پس بهتر است اولویت حکومت افغانستان، حل مشکل جنگ در افغانستان از راه مذاکره با مخالفین باشد. متاسفانه در آن زمان، نه رئیس جمهور و نه پارلمان کشور هیچکدام به این توصیه‌ها توجهی نکردند.

## گزارش هیئت افغانی در مذاکره با امریکا:

مسودۀ این پیمان در دوران ریاست جمهوری حامدکرزی به مرحلۀ نهایی رسید و آمادۀ امضا گردید. بعد از اینکه متن مسوده ترتیب شد، اکلیل حکیمی سفیر وقت افغانستان در امریکا و رئیس هیئت افغانی در این مذاکرات، طی گزارشی به ریاست جمهوری افغانستان نوشت که این موافقتنامه جوابگوی نیازهای استراتژیک متعارف نظامی افغانستان، به عنوان ملتی دارای حاکمیت ملی نیست.

در این گزارش آمده بود که برداشت ما (هیئت افغانی) از مذاکرات روی سند موافقتنامۀ امنیتی و دفاعی بین افغانستان و امریکا، این است که ایالات متحدۀ امریکا با امضای این سند، حاضر به دادن هیچگونه تعهد الزامی و یا تضمین امنیتی به افغانستان نمی‌باشد. امضای این سند در حقیقت تضمین زمانی نه الزامی برای تداوم حمایت از نیروهای امنیتی افغانستان است.

گزارش می‌افزاید که بخش تخنیکی این سند که حضور نظامی امریکا را بعد از سال 2014 تعریف می‌کند، در حقیقت Status of Forces Agreement (SOFA) است که به اساس آن ایالات متحدۀ امریکا با 122 کشور این سند را امضا کرده است. بناء جانب امریکا نمی‌تواند در بخش‌های تخنیکی سند تغییر جدی وارد کند.

در بخش دیگری از این گزارش، رئیس هیئت افغانی در مذاکرات تصریح می‌نماید که چون این سند در حقیقت سند الزامی قوۀ اجرائیه Executive Binding است، بناء جانب امریکا از پذیرفتن هرگونه تعهدی که الزامی باشد و تحقق آن مستلزم تائیدی کانگرس امریکا باشد، اجتناب می‌کند.

اما در بخش کمک به نیروهای افغان، در این گزارش چنین می‌خوانیم:

ایالات متحدۀ امریکا نمی‌تواند تعهد مشخص مالی برای حمایت از نیروهای امنیتی افغانستان را، شامل متن موافقتنامۀ همکاری‌های امنیتی و دفاعی کند.

## حامدکرزی و پیمان امنیتی:

هرچند امروز هواداران کرزی مدعی اند که وی به دلیل اینکه متوجه شد این پیمان به نفع افغانستان نیست و کشور را به صلح و ثبات نمی‌رساند، از امضای آن خودداری ورزید اما حقایق، خلاف این ادعا را به اثبات می‌رساند.

گزارش هیئت افغانی به ریاست جمهوری مدتی قبل از لویه جرگۀ مشورتی به دست کرزی رسیده بود، اما علی الرغم نگاه انتقادی اکلیل حکیمی رئیس هیئت افغانستان به موقف امریکا که در گزارش منعکس شده بود، کرزی

لویه جرگهٔ مشورتی را برای تائید این پیمان فراخواند که در آن افراد خاص و هوادار امریکا دست چین شده بودند. این جرگه متن پیمان را تائید کرد و کوچکترین اعتراض در آن مجال مطرح شدن نیافت. کسانی که متصدی امور این لویه جرگه بودند نیز به شدت هوادار امریکا بودند.

اگر کرزی واقعا مخالف امضای این پیمان می‌بود نباید چنین جرگه‌ای را فرا می‌خواند که امریکا به استناد به آن مدعی شد که تمام مردم افغانستان طرفدار امضای پیمان امنیتی با امریکا اند و در مقدمهٔ پیمان امنیتی نیز به فیصلهٔ لویه جرگهٔ مشورتی 1392 که این قرارداد را برای افغانستان پراهمیت دانسته، استناد شده است.

بنابراین مخالفت کرزی با این پیمان را می‌توان نوعی اختلاف مصنوعی دانست، زیرا همین لویه جرگه بهانه‌ای شد تا اشرف غنی نیز بدون درنگ و تامل پیمان را با امریکا امضا نماید.

## ولسی جرگه و پیمان امنیتی:

بعد از امضای پیمان توسط نمایندگان حکومت افغانستان و سفیر امریکا در کابل، ولسی جرگه این پیمان را همراه با قرارداد حضور ناتو بعد از سال 2014 در افغانستان، با 5 رای مخالف و سه رای ممتنع تصویب نمود و حتی برخلاف قاعدهٔ معمول ولسی جرگه که جلسات عمومی روزهای دوشنبه و چهارشنبه دایر می‌گردد، جلسهٔ تصویب پیمان امنیتی روز یکشنبه دایر گردید.

یکی از دلایل مهمی که هواداران امضای این قرارداد عنوان می‌کردند، این بود که افغانستان برای مقابله با مداخلات خارجی به خصوص همسایه‌ها نیازمند حمایت یک قدرت بزرگ است اما سفیر امریکا در همان آغاز کار، موضع کشورش را در این زمینه روشن ساخت. وی گفت که منظور از امضای این قرارداد دفاع از سرحدات افغانستان در برابر تجاوز خارجی نیست.

هرچند گفته می‌شد که این قرارداد میان رؤسای جمهور دو کشور صورت خواهد گرفت، اما از همان ابتدا مشخص بود که امریکا خواهان امضای قرارداد در چنین سطحی با افغانستان نیست. امضای این قرارداد از جانب سفیر امریکا در کابل به این معنی است که امریکا حتی میزان تعهدات اخلاقی خود را در این قرارداد نیز به حداقل کاهش داده است.

## تقویت نیروهای افغان:

امید دیگر نهفته در این قرارداد، کمک امریکا به مسلح ساختن نیروهای افغان، به جنگ افزارهای سنگین بود اما در این میان افشای یک ماجرای دیگر نیز نشان داد که امریکا با امضای این قرارداد قصد جدی برای مسلح ساختن نیروهای افغان را ندارد. سیگار یا نهاد بازرسی کمک‌های امریکا به افغانستان اعلام داشت که از بیست طیارۀ باربری نظامی که امریکا از ایتالیا برای نیروهای افغان خریداری کرده بود، شانزده بال آن تخریب گردیده و به قیمت آهن کهنه به فروش رسیده است و قرار است چهار طیارۀ دیگر نیز به عین سرنوشت مواجه گردد. قیمت مجموعی این طیارات به بیش از چهارصد میلیون دالر می‌رسید. گفته می‌شود که این طیارات کهنه و غیرقابل استفاده بوده است و به همین دلیل حکومت افغانستان از گرفتن آن خودداری ورزیده بود.

در این پیمان امریکا هیچگونه تعهد مشخص مالی برای حمایت از نیروهای امنیتی افغانستان را شامل متن پیمان نساخته است.

## نتیجه گیری:

هر پیمانی یک سند حقوقی است که در صورت نیاز به مراجع داوری ارائه می‌شود، بنابراین مفاد آن باید روشن و صریح باشد تا مانع دو طرف از تفسیر به رای گردد. اگر در یک پیمان واژه‌های نسبی که معانی سیال را ارائه نمایند به کار رود، هریک از طرفین می‌توانند با تفسیر به رای در مورد یک مادۀ واحد، مدعی برحق بودن و قانونی بودن دو رفتار ناهمگون گردند.

واژه‌هایی چون دو طرف «تلاش می‌کنند»، «کار می‌کنند» یا «سعی می‌کنند» در پیمان‌های دوجانبه از همین موارد اند که فقط به یک مورد آن در پیمان امنیتی اشاره می‌شود: در فقرۀ 3 مادۀ دوم پیمان امنیتی چنین می‌خوانیم:

طرفین به این باور اند که تامین امنیت مردم و قلمرو افغانستان وظیفۀ نیروهای امنیتی و دفاعی افغان می‌باشد. طرفین برای افزایش سطح قابلیت‌های نیروهای دفاعی و امنیتی افغان به منظور دفع و پاسخ به تهدیدات داخلی و خارجی باهم کار می‌کنند. برحسب تقاضای افغانستان، ایالات متحدۀ امریکا فوراً حمایتی که آمادگی ارائۀ آنرا دارد به نیروهای دفاعی افغان به هدف پاسخ دهی به تهدیدات علیه این کشور، فراهم می‌آورد.

در این بند واژۀ «کارکردن» به منظور «دفع و پاسخ به تهدیدات خارجی» می‌تواند به معانی مختلف به کار رود و «حمایت» نیز مشروط به اینست که «امریکا آمادگی ارائۀ آنرا» داشته باشد. چنین قید وشرطها هیچ الزامیتی متوجه

امریکا نمی‌سازد. بنابراین در این پیمان، امریکا هیچ تعهدی را نپذیرفته که پارلمان خواهان عملی شدن آن از جانب امریکا شده است.

پایان

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)